مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحيد وحيد

۲۰۲۶/۰۳/۱۸

# د ترهګري ضد جګړه، که امريکايي پروژه؟

پاکستان په مسلسل ډول د خپلو ناکامو تګلارو پر‌ه په افغانستان باندې د اچولو لپاره د دغه هيواد هوايي حريم ماتوي، په افغان خاوره کې بريدونه کوي او جګړه په افغانستان کې د وسله والو ډلو پر ورانديې د مخنيوي امنيتي اقدام او دفاعي ګامونه پورته کولو ترعنوان لاندې توجيه کوي. روان وضعيت د کريکترونو په بدلون سره کټ مټ د هغو سناريوګانو تکرار دی چې د افغانستان لخوا ددغه هېواد وسلوالو مخالفينو ته د پټنځايونو ورکولو او ملاتړ کولو له امله په تيرو څو لسيزو کې په پاکستان باندې تورونه لګول کيدل او پاکستان به هم له ځنډ پرته لکه د اوسني افغان حکومت په څير ردول او د افغانستان امنيتي ستونځه به يې د دغه هيواد له کورنيو نيمګړتياو سره تړله.
د معاصرو نظامي معيارونو له مخې د کره شواهدو له وړاندې کولو او سياسي حل ته د مقابل لوري لخوا د سکوت ځواب له ترلاسه کولو پرته جګړه مشروعيت نشي ترلاسه کولای. د لوړ پوړي وسله والې ډلې مشر له منځه وړل، د ترهګرو ډلو د قوماندې جوړښت شنډول او د بريد د تصديق لپاره د انکار نه منونکو شواهدو وړاندې کول اړين دي. پاکستان تراوسه پورې په دغه هکله هيڅ ډول تاييد شوی معلومات نه دي وړاندې کړي چې په بريدونو کې يې لوړ پوړی وسله وال وژل شوی وي يا د TTP عملياتي مرکز شنډ شوی وي. د داسې شواهدو د نشتوالي په صورت کې د جګړې مشروعيت د دولتي ويانديانو د څرګندونو پراساس نه، بلکې د کره لاسته راوړنو پربنسټ ارزول کيږي.

له اغيزمنو سيمو څخه باوري ويډيوګانې او راپورونه د معکوسو پايلو څرګندونه کوي. د ښځو او ماشومانو په ګډون د ملکي وګړو مرګ ژوبله او د سوداګريزو ځايونو ويجاړول په پراخه توګه راپور شوي او د افغانستان پوځي تاسيساتو ته زيانونه اړول هم پکې شامل دی. که ملکي تلفات او د پاکستان ادعاوې سره پرتله کوو او ترمنځ يې توپير ته ځير شو نو د پاکستان د ريښتونولۍ په تړاو پوښتنې او د نړيوالو قوانينو له مخې جدي اندېښنې راپورته کيږي. د بل هيواد په خاوره کې د ځواک کارول دومره په اسانه نه توجيه کيږي. هغه جنګي عمليات چې ملکي وګړي وژني يا دولتي تاسيسات هدف ګرزوي، له څرګندو موخو او شواهدو له وړاندې کولو پرته د دولتي ترهګرۍ بڼه اخلي او جنګي جنايت ګڼل کيږي.

له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو له وارخطا تېښتې سره سم د کابل له تازه واکمنانو سره د پاکستان دريز تاوتريخوالي ته واوښت، لهجه يې له دوستانه څخه آمرانه وګرزيده، غوښتنې يې له نړيوالو پرنسيپونو، د ګاونډيتوب له اصولو او له اخلاقي کوډونو سره په ټکر کې شوې، د ډيورنډ په کرښه باندې د پاکستان يواړخيز فشار د شخړو رامنځته کيدو وسيله وګرزيده. پاکستان وسلوالو ډلو ته د پناه ورکولو په پلمه په افغانستان باندې بشري اقتصادي او جنګي فشار ته په داسې حال کې دوام ورکوي چې افغان چارواکي د پاکستان ادعاوې ردولو ترڅنګ دغه هېواد په بلوچستان او خيبرپښتونخوا کې د داعش ډلې ته په پناه ورکولو تورنوي او په خپله خاوره باندې د دغه هيواد هوايي بريدونه د حاکميت سرغړونه ګڼي.

د پاکستان کورنی امنيتي، سياسي او اقتصادي ستونځې انکار نه منونکي واقعيتونه دي،خو دغه ستونځې د پاکستان له دننه حالاتو او واقعيتونو څخه سرچينه اخلي او يا هم د تيرو څو لسيزو ناکامو تګلارو، په ځانګړي ډول د افغانستان په هکله ددغه هېواد د اورږد مهاله "ستراتيژيک عمق" تګلارې پايلې دي. که احياناً د پاکستان امنيتي ستونځې له افغانستان سره تړاو هم ولري، نو بيا هم ستونځې او د حل لارې يې له افغان حکومت سره د يوه مساوي سيال، خپلواکه همکار او شريک ګاونډي په توګه د ډيپلوماتيکو چينلونو کارولو له لارې بايد شريکې کړای شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د امریکا او پاکستان ترمنځ اړیکي چي د تل لپاره  د اړتیا له مخي په ځانګړو حالاتو کي په موقت شکل رامنځته کیږي او په دې وروستیو کي یو ځل بیا په داسي حال کي تودي شوي دي چي ولسمشر ټرمپ په افغانستان کي د باګرام ستراتیژیک هوایي ډګر او پوځي وسایلو د بیرته ترلاسه کولو لپاره په تکراري ډول لېوالتیا ښودلې ده. دغي لیوالتیا د افغانستان په خلکو کي هغه ذهنیت باوري کړی چي په افغانستان باندې د پاکستان هوایي بریدونه امریکا ته د بګرام هوایي ډګر سپارلو لپاره په افغان حکومت باندې د فشار اچولو پروژه ده. پاکستان له دغي لارې هم امتیازات ترلاسه کوي او  هم امریکا ته خپل هیواد د افغانستان په هکله د بدلونونو لپاره اساسي لوبغاړی وروپېژني. د سیاسي او  عسکري شنونکو په اند د پاکستان بریدونه د پاکستان له امنیتي ستونځو او له ترهګري ضد اقداماتو سره هیڅ تړاو نلري، بلکي له امریکا څخه ترلاسه شوي پروژه ده چي د پاکستان له ستراتیژیکو موخو سمون خوري.

په تیرو څو لسیزو کي  افغان حکومتونو په خپل هېواد کي جنګېدونکو ډلو ته د پناه ځایونو ورکولو او ملاتړ په تړاو په پاکستان باندې تورونه لګولي دي، پاکستان لکه اوسني افغان حکومت په څېر دریز نیولی وو او د افغانستان امنیتي ستونځه یې ددغه هېواد د کورنیو نیمګړتیاو نتیجه ګڼله. هغه مهال اسلام آباد د امریکایي ډرون الوتکو بریدونه د پاکستان د خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا  ضد کړنه ګڼله او ټینګار یې کاوه چي د افغانستان او نړیوال ایتلاف اندېښني په غه هېواد  کي یو اړخیز برید ته جواز نه برابروي.

که د پاکستان د رسمي څرګندونو پرځای په جګړه کي د ویشتل شویو اهدافو، جیوپولیتیک او جیو ستراتیژیک اړخونو او د جګړي د پایلو ارزونه کوو نو پوهیږو چي د پاکستان لخوا په پیل شوي جګړه کي نه د ترهګرو ډلو مرکزونه په نښه شول، نه هم دغه هیواد په دغه تړاو د لاسته راوړنو کره شواهد وړاندې کړي دي او نه هم روانه جګړه د پاکستان امنیتي ستونځو په کمولو کي رول لوبولای شي، بلکي داسي ښکاري چي روانه جګړه د پاکستان د امنیتي ستونځو تر عنوان لاندې د امریکا د ګټو پروژه ده چي د پاکستان لخوا عملي کیږي او ددغه هېواد ستراتیژیکو موخو ته ورسره غوټه ورکړل شوي ده. د پاکستان لخوا پیل شوې جګړې ترشا د بهرنیو اړخونو له شتون سربیره بنسټیزه موخه د افغانستان په کورنیو تګلارو او بهرنیو اړیکو باندې د نفوذ موندلو او بالاخره د افغانستان د خپلواکي له منځه وړلو هغه خوب چي کله هم تعبیر نشي موندلی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ